# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## آمریت اطلاعات و ارتباط عامه

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**۱۵اسد _سال ۱۴۰۱**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

اخبار کامل--------------------------------------------------------------------------------------------٤
امتحان ۲۵ بست اعلان شده وزارت اخذ شد ---------------------------------------------------------------٤
بیش از ٦۰۰ خانواده در هلمند کمک نقدی شد ----------------------------------------------------------------٥
بیش از دوهزارو ٥۰۰ مهاجرافغان ازایران و پاکستان به وطن برگشت نمودند -------------------------------------٥
د بهر میشتو افغانانو نړیوله شورا له ترکيي غواړي چې د افغانانو ډله ایز ایستل و دروي -----------------------------٧
-------------------------------------------------------------------------------------------------------٧
بیش از یک هزاررو ۲۰۰ خانواده در ولایات ارزگان وقندهار مساعدت شد-----------------------------------------٩
کانال مانش: ۸٥ مهاجر از کانال مانش نجات یافتند ---------------------------------------------------------٩
»ډېری هغه کسان چې د قاچاق تور پرې لګول کېږي، غواړي چې د خپلو خپلوانو ژوند وژغوري« ---------------- ۱۱
مهاجر غیرقانونی رانده شده از سوی یونان، توسط گارد ساحلی ترکیه نجات یافتند --------------------------------- ۱٤
تیم های فرماندهی گارد ساحلی مهاجران غیرقانونی را داخل قایق لاستیکی در نزدیکی آیواجیک شناسایی کردند --- ۱٥

# اخبار کامل

## امتحان ۲۵ بست اعلان شده وزارت اخذ شد

ویب سایت وزارت



**امتحان ۲۵ بست قراردادی تحت عنوان سروی کننده از طریق رقابت آزاد، روز پنجشنبه ۱۳ اسد، با اشتراک ۱۸۵ تن داوطلب در مقر وزارت اخذ شد.**

**این بست ها که بر اساس تفاهمنامه همکاری(PPA) در سال ۲۰۲۲ میان وزارت امور مهاجرین و اداره پناهندگان سازمان ملل متحد به صورت قراردادی در چهارچوب کاری وزارت ایجاد گردیده، امتحان آن با حضور داشت مولوی محمدجان خدیرخیل رئیس دفتر و سرپرست وزارت، مولوی محمودالحق احدی رئیس پالیسی و پلان و مفتی مدیرگل احمدی رئیس منابع بشری برگزار شد.**

رئیس منابع بشری، به شفافیت کامل در اخذ امتحان تاکید کرده معلومات داد که اوراق امتحان دهندگان بر اساس سیستم (کتینگ) بررسی خواهد شد و در این سیستم ممتحن، حین بررسی اوراق نام اشتراک کننده را نمی داند.

وی علت به کاری گیری از این سیستم را تامین شفافیت هرچه بیشتر در آزمون یادشده عنوان کرد.

## بیش از ۶۰۰ خانواده در هلمند کمک نقدی شد

ویب سایت وزارت



ریاست امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت هلمند مساعدت شماری از موسسات را برای ۶۳۵ خانواده بیجاشده ناشی از جنگ ونیازمند به تاریخ ۱۲ اسد توزیع نمود.

مساعدت مذکور، برای هر یک از خانواده سروی شده، مبلغ ۱۲ هزار افغانی از جانب موسسه IRC ، بسته های خوراکی از جانب موسسه WFP ، و بسته های صحی از طرف موسسه DACAR بود.

## بیش از دوهزارو ۵۰۰ مهاجرافغان ازایران و پاکستان به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت




**دوهزارو۲۷۹ نفر مهاجر افغان، از ایران وپاکستان، به تاریخ ۱۱ و۱۲ اسد، طور جبری وداوطلبانه به وطن عودت کرده اند.**

**به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه ، از میان یک هزارو ۵۹۴ نفر، ۴۳ خانواده، شامل ۱۵۹ نفر، همراه با ۷۷۷ نفر افراد مجرد، طور جبری و۱۶۷ خانواده ، شامل ۶۶۶ تن، همراه با یک هزار و ۶۸۲ نفر، مجرد، طور داوطلبانه برگشت کرده بوند که ازمجموع آنها، ۶۲ خانواده شامل ۱۱۵ مرد و ۱۲۰ زن وهمچنان ۱۲۴ تن مجرد غرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شدند.**

**طبق یک خبر دیگر، یک هزارو ۴۶ نفر مهاجر، مقیم ایران به تاریخ ۱۲ اسد، ازطریق پل ابریشم، به ولایت نیمروز برشتند.**

**به گفته آمر امور مهاجرین آنولایت، از میان افراد مذکور ۲۱ خانواده ، شامل٦٨ تن همراه با ٦٤٥ تن افراد مجرد طور جبری، ٤ خانواده شامل ١٣ تن همراه با ٣٢٠ تن مجرد بصورت داوطلبانه واردکشور شده اند.**

**منبع علاوه نمود که از آن میان، ١٤ خانواده شامل ٢٤ مرد و ٢٦ زن وهمچنان ۵۵ تن مجرد غرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شده ا ند.**

Email: webmorr@gmail.com Media@morr.gov.af
پته: د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ، د جنګلک فابریکی شاته ، ۷ ناحیه کابل افغانستان
وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان

درعین زمان،۲۴ خانواده مهاجر مقیم پاکستان که شامل ۱۵۲ نفر فاقد مدرک بودند، از طریق سپین بولدک به وطن عودت کرده اند.

## د بهر میشتو افغانانو نړیوله شورا له ترکیې غواړي چې د افغانانو ډله ایز ایستل و دروي

کډوال نیوز



د بهر میشتو افغانانو نړیواله شورا (AGDC) مسولین په ترکیه کې د افغان کډوالو د ډله ایزې ایستنې په اړه ژوره اندیښنه څرګندوي او د دغه هیواد له چارواکو غواړي چې د افغان کډوالو نیول او د وضعیت تر سمیدو پورې افغانستان ته د دوې استول ودروي. دا په داسې حال کې ده چې له ترکیې څخه د افغانانو د ایستلو پروسه په بې ساري ډول ډیره شوې.

[د بهر میشته افغانانو نړیواله شورا](#) مشر در محمد آشنا له کډوال نیوز سره په یوه مرکه کې وویل چې ډیری دغه افغان د ناامنیو او یا بې وزلی له امله ترکیې ته پناه وړي. نوموړی د ترکیې پر چارواکو غږ کوي چې د افغانستان وضعیت ته په پام سره باید د دوې ایستل و درول شي.

ښاغلی آشنا د ملګرو ملتونو د کډوالو پر عالي کمیشنري (UNHCR)هم غږ وکړ تر څو د نړیوالو قوانینو پر بنسټ په ترکیه کې د افغانانو لاسنیوی وکړي او د سرپناه لپاره دې ورته موقت کمپونه جوړ او یا دریمو هیوادونو ته یې د استولو زمینه برابره کړي.

د بهر میشته افغانانو نړیواله شورا چې مرکز یې د استرالیا په میلبورن ښار کې دی په دې اړه یوه اعلامیه هم خپره کړې. دغه اعلامیه چې نن جمعه د اګست په ۵، خپره شوې په کې راغلي چې د ترکیې پر پولو له افغان کډوالو سره زور زیاتی، د ژوند لومړنیو خدماتو ته د افغانانو نه لاسرسی، د لازمو اسنادو نه درلود او یادو مسایلو ته د کوربه هیواد د چارواکو نه پاملرنه هغه ستونزې دي چې افغان کډوال ورسره لاس او ګریوان دي.

د افغانانو د ایستلو بې سارې ډېریدل

په افغانستان کې د طالبانو له واکمنیدو راهیسې له ترکیې څخه د افغان کډوالو ایستل خورا چټک شوی او هره ورځ سلګونه افغانان د ترکیې له بیلابیلو ښارونو څخه په چارتر الوتکو کې کابل ته استول کیږي.

د ترکیې د کورنیو چارو وزارت د یو تازه راپور له مخې د روان کال له پیل څخه د جولای تر پایه ۳۵۷۲۸ افغانان په ۱۴۴ چارتر الوتکو کې افغانستان ته او ۷۲۱۴ نور بیا پاکستان ته استول شوي دي.

سربیره پردې د ترکیې چارواکو د کډوالو د مخنیوي لپاره پر خپلو پولو امنیتي دیوال رغولی او نور عصري وسایل یې نصب کړي. د همدغو هڅو په لړ کې په روان ۲۰۲۲ کال کې ترکیې چارواکو خپلې خاورې ته د ۱۷۶۸۹۶ ناقانونه کډوالو دورتګ مخه نیولې.

د افغان کډوالو نړیواله شورا په خپله اعلامیه کې د ترکیې پر دولت غږ شوی چې د افغانانود ایستلو پر مسلې له سره غور وکړي او په دغه هیواد کې د افغانانو د نیولو پروسه دې و درول شي.

یاده شورا په دې اړه لیکلي: « موږ د یو ورور مسلمان ملت په توګه د ترکیې پرچارواکو او دولتي اداروغږکوو چې د هېواد اوسني وضعیت ته له سره کتنه وکړي او د هغو افغان کډوالو سره مرسته وکړي چې له کلونوراهیسې ترکیه کښې په سختو شرایطو کې بند پاتې دي. د هغوافغانانولپاره چې له سختو او خطرناکولاروترکیې ته تللي دي، هېواد ته راستنېدل د منلو وړ او معقوله د حل لاره نه ده«.

د یادې شورا مشر وایي چې دغه مسله به په رسمي بڼه د یو پرانیستي لیک په ترڅ کې د ترکیې له چارواکو او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ سره شریکه کړي.

د ترکیې کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې په دغه هیواد کې دا مهال ټولټال له ۴،۸ میلیونو څخه ډېر کډوال چې لنډ مهاله اقامت لري، میشت دي چې ډېره برخه یې سوریایان او بیا په دوهمه درجه کې افغانان دي.

## بیش از یک هزاررو ۲۰۰ خانواده در ولایات ارزگان وقندهار مساعدت شد

ویب سایت وزارت




**یک هزارو ۱٦ خانواده متضرر ناشی ازجنگ در ولایت ارزگان و ۲۵۰ خانواده بیجاشده در ولایت قندهار، کمکهای دفتر UNHCR را به تاریخ ۱۲ اسد، درهماهنگی با اداره های امور مهاجرین آنولایا ت دریافت نمودند.**

**کمک های یاد شده در ولایت ارزگان، برای هریک از خانواده های سروی شده، مبلغ ۷۰۰ دالر امریکایی**

**و برای هریک از ۲۵۰ خانواده بیجاشده درقندهار، بسته های فامیلی و آشپزخانه بود.**

## کانال مانش: ۸۵ مهاجر از کانال مانش نجات یافتند

مهاجرنیوز



نیروهای فرانسوی روز چهارشنبه و پنجشنبه ۸۵ مهاجر را از کانال مانش نجات دادند. این مهاجران می‌خواستند با کشتی‌های کوچک خود را به بریتانیا برسانند. دهها مهاجر دیگر نیز موفق شدند روز پنجشنبه از مسیر مانش وارد بریتانیا شوند.

فرماندهی مانش و دریای شمال فرانسه در خبرنامه‌ای گفته است که روز چهارشنبه محافظان دریایی در منطقه گری نی در نزدیکی دماغه کاله ۴۵ مهاجر را از دریا نجات دادند. کشتی حامل این مهاجران با دشواری روبرو شده بود.

روز پنجشنبه نیز در همین منطقه ۴۰ تن توسط نیروهای دریایی نجات یافتند. تعدادی از مهاجران در آب افتاده بودند اما بنابر گزارش به هیچکدام آسیبی نرسیده است.

مهاجران یاد شده بعد از انتقال به بندر به پولیس مرزی تحویل داده شدند.

**[#Opération] de recherche et de sauvetage de deux embarcations par les PSP Flamant et Pluvier, le RIAS Abeille Normandie et l'🚁 Dauphin de la @MarineNationale sous la coordination du #CROSS Gris-Nez ▶https://t.co/vXLCGJmbMW pic.twitter.com/auWrsPqY2H**

**— Préfecture maritime Manche et mer du Nord (@premarmanche) August 4, 2022**

**همزمان نیروهای بریتانیایی از رسیدن ۳۸۸ مهاجر به بندر دوور خبر دادند. این مهاجران روز پنجشنبه در ۸ کشتی از کانال مانش عبور کردند.**

**388 migrants in eight boats were brought to Dover yesterday with the assistance of Border Force, MOD and RNLI. pic.twitter.com/4yMf9fU9pD**

**— Simon Jones (@SimonJonesNews) August 5, 2022**

**علیرغم تدابیر اتخاذ شده از سوی مقام‌های فرانسوی و بریتانیایی، تلاش‌های مهاجران برای عبور از کانال مانش همچنان در حال افزایش است.**

**در آغاز این هفته، وزارت داخله بریتانیا در گزارش هفتگی خود نوشت که از ۲۵ تا ۳۱ جولای، حدود ۱۰۴۵ مهاجر از مسیر کانال مانش به این کشور رسیده‌اند.**

**روز دوشنبه اول اگست نیز نیروهای ساحلی بریتانیا ۶۹۶ مهاجر را در آب‌های این کشور ردیابی و آنان را به بندر کنت منتقل کردند.**

**به گفته مقام‌های بریتانیایی، از آغاز سل ۲۰۲۲ حدود ۱۶ هزار مهاجر به بریتانیا رفته‌اند.**

**» ډېرې هغه کسان چي د قاچاق تور پرې لګول کيږي، غواړي چي د خپلو خپلوانو ژوند وژغوري«**
کډوال نیوز




د قاچاق وړونکو پر وړاندې مبارزه د اروپايي هېوادونو د مهاجرتي پالیسو لومړیتوب بلل کېږي. خو دا کلیمه څه مانا لري؟ د اسناد نه لرونکو کډوالو لپاره د همغږۍ نړيوال پلټفورم د جولای میاشتې په وروستیو ورځو کې د یو راپور په خپرولو سره وویل، دا اصطلاح باید په سمه توګه تعریف شي. کډوال نیوز په دې هکله د یاد پلټفورم د مهاجرتي سیاست کارپوهې مارتا ګیونکو سره مرکه کړې ده .

کډوال نیوز :تاسې [د اسناد نه لرونکو کډوالو لپاره د همغږۍ نړيوال پلټفورم په راپور]() کې وايي چې اروپا کې د قاچاق وړونکو په هکله یوه «افسانه» جوړه شوې ده. د دغې افسانې له مخې قاچاق وړونکي هغه کسان دي چې له جرمي ډلو سره تړاو لري .خو تاسې وايي چې په اصل کې تر دغې کلیمې لاندې بېلابېل پروفایلونه پټ ساتل کېږي: د بېلګې په توګه هغه کسان چې د مهاجرت پر لارو سرګردان دي، یا هغه کسان چې غواړي خپل خپلوان وژغوري... څومره کسان په دغو ډلو کې راځي؟

مارتا ګیونکو :موږ له کلونو راهیسې له اروپايي کمیسیون څخه د قاچاق وړونکو د پروفایلونو په هکله د معلوماتو غوښتنه کوو. خو تر دې دمه لږو معلوماتو ته لاسرسی لرو. د اروپا په هره هېواد کې د قاچاق وړونکي کلیمه بېله مانا لري او په سمه توګه تعریف شوې نه ده.

د بېلګې په توګه، بلجيم او يا يونان کې ځينې کسان د خپل ځان په قاچاق (self-smuggling) تورن دي: مانا يې دا ده چې دوی په غير قانوني توګه دغو هېوادونو ته اوښتي دي. دا يو نوی مفهوم دی او قانون کې يې په هکله لږه روښانتيا شته.

دغه راز هغه کسان چې غواړي خپلې کورنۍ وژغوري او يا ورسره مرسته وکړي، قاچاق وړونکي بلل کېږي. د بېلګې په توګه، په هالنډ کې درې ورونه چې د خپلې کورنۍ د الحاق غوښتنې له رد کېدو وروسته يې د خپل پلار، مور او خور د سفر لګښت ورکړی و، د محکمې له خوا محکوم شول .رومانيا کې بيا ۸ کم عمر لرونکي کسان څکه په انساني قاچاق تورن شول چې په غير قانوني توګه دغه هېواد ته داخل شوي وو.

ټولې شمېرې راسره نشته، خو موږ دومره پوهېږو چې ډېری هغه کسان چې د قاچاق تور پرې لګول شوی دی، غوښتل يې چې خپل ژوند او يا د خپلو خپلوانو ژوند وژغوري.

کډوال نيوز :ولې د قاچاق وړونکو په هکله دغه «افسانه» لا هم رايجه ده؟

مارتا ګيونکو :ډېری وختونه مهاجرتي قوانين د کډوالۍ د محدودولو او د نظارتي تدابيرو د توجيه کولو لپاره جوړېږي.

بيا ولولئ :يونان دغه هېواد ته «د کډوالو د ورتګ د منصرف کولو لپاره» زرګونه مهاجر بنديان کړي دي

دا مهال اروپا کې عمومي پاليسي دا ده چې سرحدونه بايد وتړل شي او زيات شمېر مهاجر په زوره وشړل شي. اروپايي کميسيون يو نوی پلان جوړ کړی چې د کډوالو پر مجرم بللو ټينګار کوي. دوی د دغو قوانينو هدف د خلکو د ژوند ژغورل بولي، خو په اصل کې دا خلکو ته د زيان رسولو سبب ګرځي.

کډوال نيوز :په يونان او يا ايتاليا کې هغه کسان چې د کډوالو بېړۍ چلوي قاچاق وړونکي بلل کېږي او زنداني کېږي. ولې دا حالت د اندېښنې وړ دی؟

مارتا ګيونکو :له تېرو څو کلونو راهيسې په دغو پېښو کې زياتوالی راغلی دی. د بېړۍ چلوونکو مجرم بلل په دې مانا دي چې ټول هغه کسان چې د خپل ژوند په خاطر مهاجرت ته اړ شوي دي مجرمان دي.

خو ياده دې وي چې د ايتاليا سترې محکمې هغو دوو ځوانانو ته برائت ورکړ چې د قاچاق تور پرې لګول شوی وی. محکمې وويل چې دوی د «ضرورت» په وخت کې له نورو سره مرسته کړې.

دا وضعيت د اندېښنې وړ دی. داسې خبرونه ډېر ژر خپرېږي. کډوال پوهېږي چې د بېړۍ د چلولو او يا د مرستې د غوښتلو په صورت کې مجرم بلل کېږي او ښايي په کلونو بند محکوم شي. نو څکه ډارېږي.

**د دې حالت پایله دا ده چې د ژغورونکو له رسېدو سره سم ځینې کسان د بېړۍ له چلولو لاس اخلي او یا له موټور څخه ځان لرې کوي چې له امله یې بېړۍ نامتعادله کېږي او ښايي د خلکو ژوند له خطر سره مخ کړي.**

**کډوال نیوز :ستاسې راپور کې راغلي دي چې دمګړۍ د کډوالو ملاتړي هم مجرم بلل کېږي. په فرانسه کې هم ورته بحثونه موجود وو، خو وروسته بیا اساسي قانون کې د وروروليي اصل درج کړل شو. نورو هېوادونو کې ورته بدلونونه رامنځ ته شوي دي؟**

**مارتا ګیونکو :لږ بدلونونه راغلي دي، د بېلګې په توګه د فرانسوي برزګر سدریک هرو برائت ترلاسه کول او یا بلجیم کې ورته پېښې. که محکمې خپلواکې وي، دوی به مهم رول لوبولی شي.**

**خو وضعیت په ټولو هېوادونو کې یو شان نه دی. د بېلګې په توګه، بلجیم کې د مهاجرو هغه ملاتړي چې د دغه هېواد تابعیت لري برائت ترلاسه کړی، خو هغه کسان چې تابعیت نه لري محکوم شوي دي .**

**بیا ولولئ :درې کډوال یونان ته د مهاجرو د ورتګ د زمیني د برابرولو په تور په ۴۳۹ کاله بند محکوم شوي**

**د بدلونونو سره سره د کډوالو سره ملاتړ لا هم جرم بلل کېږي. د ۲۰۲۱ د جنورۍ د ۲۰۲۲ تر مارچ پورې اروپايي ټولنه کې لږ تر لږه ۸۹ کسان له کډوالو سره د ملاتړ د تخلف په خاطر تر قضایي تعقیب لاندې وو.**

**په کار ده چې د اروپا په کچه د قاچاق وړونکو تعریف بدل شي: قاچاق وړونکی هغه کس دی چې د خلکو د انتقالو لپاره «زیاتي مالي ګټې» ترلاسه کوي. اوسني وضعیت کې یو سرویس چلوونکی هم د مسافرو د تکټونو د نه کټو په خاطر مجرم بلل کېدای شي. همدارنګه ټول خلک کولی شي چې د سرحدي ساتونکو په توګه عمل وکړي. موږ باید هغه کسان په ګوته کړو چې خلک استثماروي.**

## مهاجر غیرقانونی رانده شده از سوی یونان، توسط گارد ساحلی ترکیه نجات یافتند

رادیو صدای ترکیه

**تیم های فرماندهی گارد ساحلی مهاجران غیرقانونی را داخل قایق لاستیکی در نزدیکی آیواجیک شناسایی کردند**



**۱۳ مهاجر غیرقانونی که از سوی یونان در سواحل منطقه آیواجیک چاناک قلعه به سوی آب‌های سرزمینی ترکیه رانده شده بودند، نجات داده شدند.**

**تیم های فرماندهی گارد ساحلی مهاجران غیرقانونی را داخل قایق لاستیکی در نزدیکی آیواجیک شناسایی کردند.**

**۱۳ نفر از کشورهای مختلف که توسط عناصر یونانی به داخل آبهای سرزمینی ترکیه رانده شده بودند، با عملیات سازماندهی شده توسط قایق "KB-4510" فرماندهی گارد ساحلی نجات یافتند.**

**مهاجران غیرقانونی که در شهر کوچوکویو یافته شدند، پس از اقدامات انجام شده به مرکز استرداد اتباع خارجی آیواجیک منتقل شدند.**